د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
Journal Homepage: https://journal.salam.edu.af
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# بهرنیو هېوادونو ته د افغانانو د کډوالۍ ټولنیز لاملونه او حل لارې يې

# Social Factors Behind Afghan Migration to Foreign Countries and Potential Solutions

نوماند پوهنیار انعام الله میاخېل[1]، پوهنوال دوکتور رحیم الله ځیرک[2]ډاکټر امان الله اسلمي[3]

DOI: 10.64104/v10.Issue.17.n2.2025

ISSN: 3078-9575 (Print)
ISSN: 3078-9583 (Online)
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸
تعداد صفحات: ۲۲
از صفحه ۱۷ تا ۳۸

## چکیده

کډوالي په ننۍ نړۍ کې یوه نړیواله پېژندل شوې پدیده ده، چې افغانستان هم ترې مستثنا نـه دی. پـه تېـرو څو لسیزو کې د ناامنۍ، اقتصادي ستونزو، بېکارۍ، ټولنيزې ناخوالې او نورو عواملو له امله ګڼ شـمېر افغانـان اړ شوي، چې خپل هېواد پرېږدي او بهرنیو هېوادونو ته کډوال شي. د دې موضوع څېړنه له دې اړخـه ارزښـت لـري، چې د افغانانو د کډوالۍ ټولنیز لاملونه روښانه، د ټولنیزو ستونزو او کډوالۍ تـرمنځ اړیکـه وارزول شي، د مخنیـوي ممکنه حل‌لارې موندلو ترڅنګ د حکومت او نړیوالو ادارو رول تحلیل شي. د دې څېړنې موخه دا ده، چې بهرنیـو هېوادونو ته د افغانانو د کډوالۍ د ټولنیزو لاملونو د پېژندلو سربېره د ټولنیزو لاملونو او کډوالۍ تـرمنځ اړیکـه وارزول شي. د کډوالۍ د مخنیوي لپاره ممکنه ټولنیزې حل‌لارې په ډاګه او د کډوالۍ په راکمولو کـې د حکومـت او نړیوالـو ادارو رول وڅېـړل شي. دا څېړنـه د کمیتـي *(Quantitative)* او تشریـحي-تحـلیلي *(Descriptive-Analytical)* بڼه ده، چې د سروې مېتود پر بنسټ ترسره شـوې ده. معلومـات د *Google Form* لـه لارې د یـوې جوړې شوې پوښتنپاڼې په مرسته راټول شوي، چې ۲۱۵ ګډونوالو يې ځـواب ویلـی دی. دغـه څېړنـه دې بنسـټي پوښتنې ته ځـواب وایـي، چې بهرنیـو هېوادونـو تـه د افغانـانو د کـډوالۍ لاملونـه او حـل لارې څـه دي. د څېړنـې موندنې ښیي، چې د افغانانو د کډوالۍ بنسټيز لاملونه اقتصادي ستونزې، بې‌کاري، شخړې، ټـولنيزې نـابرابرۍ، د کاري فرصتونو نشتوالی، اداري فساد او رشوت، ټولنیز مشکلات او روغتیایي خدمتونو ته نه‌لاسرسـی دي. د حـل لارو په برخه کې ډېری ګډونوالو د اقتصادي، اداري، تعلیمي او روغتیایي اصـلاحاتو پـر اړتیـا ټینګـار کـړی دی او ځیني نورو ګډونوال د کاري فرصتونو ایجاد بنسټیز حل بولي. څېړنه په ټوله کې دا څرګنـدوي، چـې کـه مناسـبه اقتصادي، اداري او ټولنیزه فضا رامنځته شي، ٪۹۱,۱٦ خلک به د کډوالۍ اړتیا ونه لـري. دا مونـدنې د دې اړتیـا

---

[1]. ژورنالېزم څانګه، ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، لغمان پوهنتون، miakhelinamullah322@gmial.com
[2]. پښتو ژبې او ادب څانګه، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، کابل پوهنتون
[3]. کلینک څانګه، معالجوي طب پوهنځی، روښان د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار)

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد
The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.

جوتونه کوي، چې د کډوالۍ د مخنیوي لپاره باید بنسټیز اصلاحات، د فساد پر ضد اقدامات، د کار زمینې برابرول، د خصوصي سکتور ملاتړ، د مسلکي زده کړو پراختیا او د ټولنیز عدالت تأمین ته جدي پاملرنه وشي.

**کلیدي کلیمې: بهرني هېوادونه، افغانان، کډوالي، ټولنیز لاملونه، اقتصادي ستونزې او د کار نشتولی**

## سریزه

افغانستان د ګڼو پېښو (لکه: جګړو، سیاسي بې ثباتۍ او اقتصادي ستونزو) له امله د کډوالۍ یوه ستره سرچینه ګڼل کېږي. افغانانو د ډېرو کلونو راهیسې د جګړو او تاوتریخوالي له امله خپل هېواد پرېښی دی. د دې هېواد وګړي ډېر ځله د دې په لټه کې دي، چې د یو ښه ژوند لپاره د نورو هېوادونو پر لور کډوالۍ ته زړه ښه کړي. په دې کډوالۍ کې یوازې د جګړو اغېزې نه؛ بلکه د اقتصادي بحران، ټولنیزو خدماتو نشتوالی او د کاري فرصتونو کموالی هم ډېره ونډه لري *(Monsutti, 2005; Loschmann, 2014)*.

همدا رنګه د افغانانو د کډوالۍ لاملونه یوازې جګړو پورې محدود نه دي. د بې وزلۍ، اقتصادي ستونزو او د تعلیم او مسلکي پرمختګ لپاره د فرصتونو نشتوالی هم د کډوالۍ لپاره د لاملونو په توګه ګڼل کېږي. د افغانانو ډېرى کډوال په نورو هېوادونو کې د ژوند د شرایطو ښه کولو لپاره هڅه کوي، د کاري فرصتونو په لټه کې دي او غواړي چې د خپلو ماشومانو لپاره بهتر راتلونکی ولري *(Van 2015)* . همدارنګه ، په ځینو مواردو کې د افغانانو د کډوالۍ لاملونه ټولنیز او کلتوري بدلونونه دي *(Yawar, 2024)*.

د جګړو دوام او د امنیت نشتوالی، چې له ۱۹۷۸ ز کال راهیسې د افغانستان د ټولنیز نظم یوه لویه ستونزه ده، د خلکو د کډوالۍ یو مهم لامل ګڼل کېږي. جګړې نه یوازې د فزیکي امنیت مسله راولاړه کړې؛ بلکې د تعلیم، روغتیا، اقتصاد او نورو بنسټیزو برخو په وده کې یې خنډونه راولاړ کړي. د لسګونو کلونو جګړو نه یوازې میلیونونو افغانانو ژوند اخیستی یا یې معیوب کړي؛ بلکې میلیونونه نور یې اړ کړي، چې له هېواده بهر پناه واخلي *(IOM, 2023)*.

اقتصادي ستونزې هم د افغانانو د کډوالۍ له مهمو لاملونو څخه دي. افغانستان یو له هغو هېوادونو دی، چې د اقتصادي شاخصونو له پلوه د نړۍ په کم عاید لرونکو هېوادونو کې راځي. د کاري فرصتونو کمښت، د خصوصي سکتور کمزورتیا، د پانګونې نه شتون او د بازار نانډوله وده د دې لامل شوې، چې وګړي د ښه اقتصادي راتلونکي لپاره بهرنیو هېوادونو ته مخه کړي. لوشمن او زیګل (2014) په خپله څېړنه کې څرګندوي، چې ډېر افغان ځوانان د ژوندانه د کیفیت د ښه والي، زده کړې، او کاري فرصتونو موندلو لپاره بهر کډوالۍ ته لومړیتوب ورکوي.

دا کډوالي نه یوازې د افغانانو د وګړیز ژوند پر کیفیت تاثیر کوي؛ بلکې په ټولنیز، اقتصادي او فرهنګي لحاظ هم د افغان ټولنې لپاره ځانګړې ننګونې رامنځته کوي. د دې کډوالۍ بېلابېل لاملونه لکه جګړې، اقتصادي ستونزې، بې ثباتي او د ژوند د شرایطو خرابوالی د افغانانو لپاره د کډوالۍ هغه لاملونه دي، چې دوی یې له هېواده کډوالۍ ته اړ کړي دي.

همداراز رواني او ذهني عوامل هم د افغانانو د مهاجرت پر پرېکړه کې اړینه ونډه لري. د جګړې، فقر، ټولنیزې ناخوالې او بې‌ثباتۍ له امله د خلکو رواني وضعیت اغېزمن شوی او د یو ارام او باعتماده چاپېریال لټه یې د کډوالۍ د پرېکړې یوه بله مهمه بنه ده.

د دغو ټولو لاملونو په رڼا کې، دا اړینه ده، چې د افغانانو د کډوالۍ پدیده یوازې د یو شخصي غوراوي په توګه ونه ګڼل شي؛ بلکې باید دا د ټولنیز، اقتصادي او سیاسي بحران پایله وګڼل شي. له همدې امله، د کډوالۍ ستونزی د حل لپاره اړتیا

ده، چې پراخې پالېسۍ جوړې، بنسټیزو خدمتونو پراختیا ته لومړیتوب ورکړل او بشري حقونه خوندي شي. یو داسې ټولنیز چاپېریال رامنځته شي، چې وګړي د خپل هېواد پرېښودو ته اړ نه شي.

په دې مقاله کې هڅه شوې، چې د افغانانو د کډوالۍ ټولنیز لاملونه له علمي اړخه وڅېړل شي، د بېلابېلو نظریاتو او څېړنو پر بنسټ تحلیلي لید وړاندې شي او د هغو حل‌لارو بحث وشي، چې د دې پراخې او اړینې ټولنیزې ستونزې د کمولو او مدیریت لپاره ګټورې واقع کېدای شي. دغه حل‌لارې کېدای شي، د افغان دولت د پالیسیو جوړونې لپاره هم بنسټیز رول ولوبوي او د نړیوالو مرستندویه بنسټونو لپاره هم د همکارۍ یوه واضحه نقشه برابره کړي.

### د ستونزې بیان

افغانستان له اوږدې مودې راهیسې د بېلابېلو ستونزو له امله د کډوالۍ له نادودې سره مخ دی. د جګړو، اقتصادي بې ثباتۍ، ټولنیزو نابرابریو، د تعلیمي او روغتیایي خدماتو ته د نه لاسرسي او نورو ګڼو ستونزو له امله زرګونه افغانان هر کال د نورو هېوادونو لوري ته کډه کېږي او هغه انرژي، چې د هېواد په څان بساینه کې مصرف کړي؛ نور هېوادونه ترې د خپل ښه راتلوونکي په موخه ګټه اخلي.

که څه هم د کډوالۍ ځینې لاملونه سیاسي او اقتصادي بڼه لري؛ خو ټولنیز لاملونه د دې بهیر په دوام او شدت کې ستره ونډه لري. امنیتي اندېښنې، د ټولنیز عدالت نشتوالی، د کاري فرصتونو کمښت، واسطې، اداري فساد او د ټولنې د جوړښتونو کمزوري کېدل، کورني او ټولینزې ناخوالې، روغتیایي خدمتونو ته محدود لاسرسی؛ هغه مهم ټولنیز لاملونه دي، چې د کډوالۍ کچه یې لوړه کړې ده.

په دې څېړنه کې هڅه شوې ده، چې د افغانانو د کډوالۍ ټولنیزې جرړې وڅېړي او دا معلومه شي، چې د ټولنیزو اصلاحاتو، د تعلیم او روغتیا د پراختیا، ادراي فساد مخنیوي، د کاري فرصتونو رامنځته کولو، امنیت او د ټولنیز عدالت د ټینګښت له لارې، تر کومه حده د دې ستونزې مخنیوی ممکن دی. څېړنه به دې پوښتنې ته هم ځواب په ډاګه کړي، چې څنګه افغان حکومت او نړیواله ټولنه کولی شي، په هېواد کې د افغانانو د پاتې کېدو لپاره لازم ټولنیز شرایط برابر کړي؛ څو د کډوالۍ بهیر ورو شي.

### د څېړنې اهمیت

بهرنیو هېوادونو ته د افغانانو د کډوالۍ ټولنیز لاملونه او حل لارې یې د څېړنې له پلوه یو خورا اړین او ارزښتناک بحث دی، چې نه یوازې د هېواد د ټولنیز ثبات او پرمختګ لپاره بنسټیزه معنی لري؛ بلکې د ملي سیاستونو د جوړولو، د انساني منابعو د ساتنې او د کډوالۍ د بهیر د کنټرول لپاره مهمه اړ تیا ګڼل کیږي . د کډوالۍ بهیر په ځانګړې توګه هغه مهال د اندېښنې وړ کېږي، کله چې لویه برخه لوستی او ځوان قشر هېواد پرېږدي، چې دا چار د بشري پانګې د ضیاع، د ټولنیزې نابرابرۍ د ډېرېدو او د اقتصادي پایښت د نشتوالي له امله، د هېواد د اوږدمهالي پرمختګ پر وړاندې ستر خنډونه جوړوي. له همدې امله، د دې موضوع څېړنه کولی شي دا روښانه کړي، چې کوم ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او کلتوري لاملونه د افغانانو د کډوالۍ تر شا پراته دي او دا( څېړنه ) به د ستونزې د واقعي حل لپاره عملي لارې چارې وړاندې کړي.

### د څېړنې موخې

- بهرنیو هېوادونو ته د افغانانو د کډوالۍ ټولنیزو لاملونو پېژندنه؛
- د ټولنیزو لاملونو او کډوالۍ ترمنځ د اړیکې ارزونه؛

- د کډوالۍ د مخنیوي لپاره ممکنه ټولنیزې حل‌لارې موندل؛
- د کډوالۍ په راکمولو کې د حکومت او نړیوالو ادارو رول ارزول.

### د څېړنې پوښتنې

- بهرنیو هېوادونو ته د افغانانو د کډوالۍ ټولنیزو لاملونو کوم دي؟
- د ټولنیزو لاملونو او کډوالۍ ترمنځ کومه اړیکه ده؟
- د کډوالۍ د مخنیوي لپاره ممکنه ټولنیزې حل‌لارې کومې دي؟
- د کډوالۍ په راکمولو کې د حکومت او نړیوالو ادارو رول څه دی؟

### د څېړنې تګلاره

د دې څېړنې بڼه کمیتي *(Quantitative)* او تشریحي-تحلیلي *(Descriptive-Analytical)* ده، چې له لارې یې بهرنیو هېوادونو ته د افغانانو د کډوالۍ ټولنیز لاملونه او ممکنه حل لارې تحلیل شوې دي. دا څېړنه د سروې *(Survey)* تګلارې پر بنسټ ولاړه ده، چې د معلوماتو راټولولو لپاره له پوښتنپاڼې څخه ګټه اخیستل شوې ده.

د څېړنې لپاره یوه هر اړخیزه پوښتنپاڼه چمتو شوې وه ، چې د کډوالۍ عمده ټولنیزو لاملونو او ممکنه حل لارو ته ځانګړې شوې وه. دغه پوښتنپاڼه د *Google Forms* له لارې په انلاین بڼه له بېلابېلو قشرونو سره شریکه شوې ده، چې ۲۱۵ کسانو دې پوښتنپاڼې ته ځوابونه ورکړي، چې پکې د بېلابېلو تعلیمي کچو لرونکي افغانان، چې ځیني یې اوس هم کډوال او نور یې داسې دي، چې په هېواد کې دننه دي؛ شامل وو.

د راټولو شویو معلوماتو تحلیل د مایکروسافټ اېکسل *(Microsoft Excel)* په مرسته شوی دی. د احصایوي جدولونو او سلنه یې( فیصدي ) محاسبو له لارې د کډوالۍ عمده ټولنیز لاملونه، حل لارې یې، د خلکو نظرونه، او وړاندیزونه تحلیل شوي دي. دا احصایوي تحلیل د دې لپاره ترسره شوی؛ څو معلومه شي، چې کوم ټولنیز لاملونه د کډوالۍ پر بهیر ډېر اغېز لري او کومې حل‌لارې له دې ستونزې د وتلو لپاره ګټورې تمامېدای شي.

د څېړنې د اعتبار د لوړولو لپاره هڅه شوې چې پوښتنپاڼه د مختلفو افغانانو ترمنځ په انلاین بڼه شریکه شوه، څو د ګډونوالو جغرافیوي ساحه محدوده نه وه؛ ځکه پکې یوازې هغو کسانو ګډون کړی، چې انټرنېټ ته یې لاسرسی درلود. همدارز، څېړنه یوازې د کمیتي مېتود پر بنسټ ولاړه ده، چې د احصایوي شننو له لارې پایلې وړاندې کوي.

په پایله کې، د دې څېړنې موندنې بهرنیو هېوادونو ته د افغانانو د کډوالۍ ټولنیز لاملونه او د حل‌لارو ترڅنګ د ګډونوالو وړاندیزونه روښانه کوي . دا موندنې کولای شي د حکومت پالیسۍ جوړونکو، څېړونکو، مدني ټولنو او نړیوالو ادارو لپاره ارزښتناکې وي؛ څو د کډوالۍ بهیر د کنټرول او د افغانانو لپاره د غوره ټولنیزو شرایطو د برابرولو لپاره لازم اقدامات ترسره کړي.

### تېرو لیکنو ته کتنه

د افغانانو کډوالۍ مسئلې د اوږدې مودې راهیسې د نړیوالو پاملرنه راجلب کړې ده. دا پدیده د بېلابېلو ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او فرهنګي عواملو له کبله د زیاتېدونکي پراختیا شاهده ده. په دې اړه څو څېړنې شوې دي، چې کوم لاملونه افغانان کډوالۍ ته هڅوي. د جانزاده (2020) په څېړنه کې هغه ټولنیزې او اقتصادي ستونزې یادې شوې دي، چې په افغانستان کې د شوري اتحاد له یرغل وروسته زیاتې شوې او افغانانو ته یې ایران ته د کډوالۍ لاره پراخه کړه. د عباسي

شوازي او همکارانو (2017) په مقاله کی په دې بحث شوی، چې افغانان له ایران څخه افغانستان ته بېرته ستنېدنه د اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي فشارونو له امله لري او د دې بهیر دوام درېدنه پایداري او اوږدمهالي حل لارې ته اړتیا لري.

د محمدي، خداوردی، کشیشیان او مطلبی (2019) څېړنه هم دا ښیي، چې د ایران په څېر هېوادونو کې د افغان کډوالو شمېر زیات شوی دی، چې له امله یې د ایران ملي امنیت لپاره ګواښونه رامنځته کړي. اقتصادي ستونزی ، بې کاري، فساد او ټولنیزې نابرابری هم د کډوالۍ لاملونه ګڼل شوي دي. په دې توګه، د اقتصادي بې ثباتۍ او ټولنیزې نابرابرۍ ګډ موجودیت د افغانانو دکډوالۍ د زیاتېدو اصلي لاملونه ګڼل شوي دي. د ستاره جلال (2018) په څېړنه کې د زابل په سیمه کې د افغانانو کډوالۍ ته د سخت مالي فقر، نااميدۍ او تبعیض په توګه نغوته شوې ده او دا پکې د کډوالۍ تر ټولو مهم لاملونه بلل شوي دي. دې څېړنې هم د دې حقیقت تائید وکړ، چې افغانان د ټولنیزو فشارونو، په ځانګړې توګه د قومي، مذهبي او ژبني تبعیض له کبله، کډوالۍ ته اړ کېږي. د صادقی، محمدي او عباسي شوازی (2019) په څېړنه کې د کډوالۍ د ټولنیزو لاملونو تحلیل شوی دی. هغوی د افغانانو د کډوالۍ په اړه د ټولنیزو شبکو پراختیا او اقتصادي، ټولنیز او سیاسي وضعیت په اړه د خلکو باورونه څېړلي دي، چې د کډوالۍ تمایلاتو په رامنځته کولو کې رول لري.

د *Dashti, Z.*(۲۰۲۲) څېړنه هم د افغانانو بهرنیو هېوادونو ته د کډوالۍ د زیاتوالي لاملونه په 1979 کال وروسته تحلیل کړي دي. هغه په دې څېړنه کې په ډاګه کړي دي ، چې د افغانانو زیاتره کډوال ایران، پاکستان او ترکې ته تللي دي او دغه هېوادونه د افغانانو د کډوالۍ لپاره د لومړنیو مقصدونو په توګه ټاکل شوي دي. دغه څېړنه همدا رنګه د کډوالۍ په اړه د د دغو هیوادونو د مهمو پالیسیو تحلیل وړاندی کوي (۲۰۲۲) هم په خپله څېړنه کې دې پایلې ته رسېدلی، چې د افغانستان اوږدمهاله شخړو، کورنۍ جګړې او قومي تاوتریخوالي افغانان اړ کړي، چې په بېلابېلو پړاوونو کې زیاتره ګاونډیو هېوادونو ته او له هغوی هاخوا ته کډه وکړي.

په وروستیو کلونو کې، د افغانستان سیاسي او ټولنیز وضعیت د کډوالۍ څپو لامل شوی، چې له امله یې ځینو نړیوالو او سیمه‌ییزو څېړنو دا پدیده ژوره څېړلې ده. د *"Mixed Migration Centre"* لخوا د ۲۰۲۳م کال راپور ښیي، چې د اسلامي امارت د بیا واکمنۍ وروسته د افغانانو د کډوالۍ بهیر نوې بڼه غوره کړې ده. دغه راپور څرګندوي، چې د افغان کډوالو ډېری برخې د ناامنۍ، اقتصادي مشکلات، تعلیم ته نه لاسرسي او ټولنیزو محدودیتونو له امله هېواد پرېښی دی. همداراز، په راپور کې د هغو افغانانو وضعیت ته اشاره شوې، چې ایران، پاکستان، او منځنۍ آسیا ته په غیررسمي لارو مهاجرت کوي او له ګڼو ګواښونو سره مخ کېږي *(Mixed Migration Centre, 2023).* دغه څېړنه روښانه کوي، چې د افغان کډوالۍ بڼه نور یوازې جګړه ییز اړخ نه لري؛ بلکې اقتصادي او ټولنیزې انګېزې هم د خلکو پر پرېکړې ژور اغېز لري.

ورته مهال، د *"Global Initiative Against Transnational Organized Crime" (GI-TOC)* یوه بله مهمه څېړنه، چې په ۲۰۲۳م کال کې خپره شوې، د افغانانو د ناقانوني کډوالۍ او د انساني قاچاق مسیرونه تحلیل کړي دي. دا راپور د هغو شبکو جوړښتونه افشا کوي، چې له افغان کډوالۍ څخه اقتصادي ګټه اخلي او د خلکو د ناتوانۍ څخه ګټه پورته کوي. څېړنه څرګندوي، چې د ځوانانو ترمنځ د کاري فرصتونو نشتوالی، د ښځو او نجونو د زده‌کړو بندښت او د مدني ازادیو محدودیتونه هغه ټولنیز عوامل دي، چې د کډوالۍ د نوې څپې اصلي محرکات جوړوي. دا راپور د کډوالو د رواني فشارونو، نامعلوم راتلونکی او د اسنادو د نشتوالي ستونزې هم روښانه کړې دي *(GI-TOC, 2023)* همداراز، د *Van (2015)* څېړنه

هم یادونه کوي، چې افغان کډوال ډېر وخت د "بهتر ژوند"، "تحصیلي فرصتونو"، او "د کورنۍ د خوندیتوب" لپاره کډوالۍ ته لومړیتوب ورکوي او دا لاملونه د ټولنیز فشار ترڅنګ یو پراخ اروايي تمایل رامنځته کوي.

زما د څېړنې پایلې ښیي، چې د افغانانو د کډوالۍ اصلي لاملونه اقتصادي، ټولنیزې... ستونزې دي. د کډوالۍ په اړه د ګډونوالو ډېری نظریات د دې حقیقت تائید کوي، چې افغانان د ژوند د شرایطو د ښه والي لپاره کډوالۍ ته اړ کېږي. اقتصادي بې‌ثباتي، د کار نشتوالی او ټولنیزې ناخوالې د هغو عواملو په توګه یاد شوي، چې افغانان یې له خپل هېواد څخه بهر ته کډوالۍ ته اړ کړي دي. د کډوالۍ د مخنیوي لپاره د حل لارو په اړه ګډونوالو د اقتصادي، تعلیمي، روغتیایي، او اداري اصلاحاتو او همدارنګه د خصوصي سکتور پراختیا ته اشاره کړې ده. همدارنګه د ګډونوالو وړاندیزونه په حکومتي پالیسیو کې د اصلاحاتو غوښتنه کوي ، چې د ځوانانو لپاره د کارموندنې زمینه سازي، د ټولنیزو خدماتو پراختیا، او د کلیوالو سیمو پرمختګ ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

**موندنې**

۱ . جدول: د ګډونوالو جنسیت، عمر او زده کړو کچه

| | | | | | | د ټولو ګډونوالو شمېر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **جنسیت** | **نارینه** | | | **ښځینه** | | 215 |
| | 214 | | | 1 | | |
| | 99.5% | | | 0.5% | | |
| **عمر** | له 18 کلونو څخه کم | 18-30 کاله | 31-45 کاله | له 45 کلونو پورته | | |
| | 15 | 179 | 21 | | | |
| | 9.98% | 83.26% | 9.77% | ۰ | | |
| **زده کړو کچه** | دوکتورا | ماستري | لېسانس | دولسم پاس | لومړنۍ زده کړې | |
| | 0 | 16 | 137 | 53 | 9 | |
| | 0 | 7.44% | 63.72% | 24.65% | 4.9% | |

پورتنی جدول راته دا څرګندوي، چې د څېړنې ډېری ګډونوال نارینه (۹۹,۵٪) او ځوانان یعنې د ۱۸ څخه تر ۳۰ کلونو پورې عمر لرونکي دي، چې ٪۸۳,۲۶ سلنه کېږي، چې د ۱۸ کلونو څخه د کم عمر لرونکي او د ۳۱ څخه ۴۵ پورې د کلونو عمر لرونکو ګډوالنولو شمېر یې بیا دویمه کچه په ډاګه کوي؛ خو باید یاده یې کړو، چې د جنسیت په اساس په کې نارینه او د عمر په اساس پکې د ۱۸-۳۰ کلونو عمر لرونکي د ګډونوالو برخې لوړې دي. د زده کړو کچه یې په ټوله کې د لېسانس ٪۶۳,۷۲ او یوازې لږ شمېر یې ماستري او لومړنیو زده کړ و لرونکي د ي . نو دې ته په کتو ویلی شو، چې د څېړنې ډېری ګډونوال ځوانان او لوستي اشخاص دي.


۲. جدول: د ګډونوالو د اوسېدو ځای، د کډوال کېدو او کډوالۍ ارادې څرنګوالی

| | | | |
|---|---|---|---|
| **د ګډونوالو د اوسېدو ځای** | **ښار** | **اطراف** | |
| | 75 | 140 | |
| | 34.88% | 65.12% | |
| **د کډوال کېدو څرنګوالی** | هو؛ زه اوس هم کډوال یم | هو؛ خو زه اوس بېرته هېواد ته راستون شوی یم | نه هېڅکله کډوال شوی نه یم |
| | 17 | 45 | 153 |
| | 7.91% | 20.93% | 71.16% |
| **د کډوالۍ اراده** | هو | نه | نامعلوم |
| | 71 | 68 | 76 |
| | 33.02% | 31.63% | 35.35% |

پورتنی جدول د ګډونوالو اوسېدو ځای  په اړه چې په ښار او اطرافو کې اوسېږي؛ معلومات راکوي، چې ۳۴،۸۸٪ ګډونوال په ښار او ۶۵،۱۲٪ یې په اطرافو کې ژوند کوي. دا وېش په ډاګه کوي، چې د څېړنې ډېری ګډونوال په اطرافو کې استوګن دي، چې ښايي دا اوسېدنه د دوی د مهاجرت اقتصادي، ټولنیزو او جغرافيايي عواملو پر بنسټ وي.

د ګډونوالو له ډلې ۷،۹۱٪ اوس هم کډوال دي، ۲۰،۹۳٪ یې د کډوالۍ ژوند څخه بېرته راستانه شوي دي او ۷۱،۱۶٪ یې هیڅکله نه دي کډوال شوي. همدارنګه له ډلې یې ۳۳،۰۲٪ د کډوالۍ اراده لري، ۳۱،۶۳٪ یې د کډوالۍ هېڅ اراده نه لري او په هېواد کې پاتې کېدل غواړي او ۳۵،۳۵٪ یې تر اوسه په نامعلوم حالت کې دي یعنې په دې معنی، چې دوی تر اوسه د کډوالۍ د ارادې په اړه معلوم نظر نه لري. یاده دې وي، چې پورتني معلومات د کډوالۍ په اړه د ګډونوالو بېلابېل حالتونه او نظرونه په ګوته کوي، چې د ټولنیزو او اقتصادي شرایطو پر اساس ممکن بدلون  ومومي.

۱. چارټ: د کډوالۍ تر ټولو مهم لامل څرنګوالی





د پورتني چارټ موندنې راته د افغانانو د کډوالۍ تر ټولو مهم لامل په اړه معلومات راکوي، چې پکې د کډوالۍ تر ټولو مهم لامل  ټولنیزی  او اقتصادي ستونزې په ډاګه شوې دي، چې ۶۲،۷۹٪ ګډونوالو یې د کډوالۍ د  بنسټیز لامل په توګه یادونه کړې ده. دا په ډاګه کوي، چې د کډوالۍ بهیر له اقتصادي فشارونو او ستونزو سره نږدې اړیکه لري، چې کېدای شي د کاري

فرصتونو نشتون، د عوایدو کمښت، د ژوند د لګښت لوړوالي او عمومي اقتصادي بې‌ثباتي پکې مهمه ونډه ولري. له دې امله، داسې ښکاري چې د افغانانو لپاره د کډوالۍ اصلي انګېزه د وضعیت ښه‌والي ته هیله ده.

تر اقتصادي ستونزو وروسته، د کارونو کمښت یا نشتوالی ۲۲,۷۹٪ د کډوالۍ یو اړین لامل په ګوته شوی دی، چې دا هم له اقتصادي بې‌ثباتی سره نېغه اړیکه لري. همداراز، شخړې ۸,۳۷٪ ، د زده کړو محدودیتونه ۳,۷۲٪ او د ټولنیزو خدمتونو محدودیت ۲,۳۳٪ د کډوالۍ نور یاد شوي لاملونه دي. دا پایلې په ډاګوي، چې شخړې، د زده کړو محدودیتونه... نور هغه لاملونه دي، چې اقتصادي ستونزې یې تر ټولو پیاوړی محرک دی، چې د خلکو د کډوالۍ تصمیم نیولو کې یې اړینه ونډه لرلې ده.


۲. چارټ: ټولنیزې ناخوالې د کډوالۍ د لامل په توګه




په پورتني چارټ کې ۵۹,۵۳٪ ګډونوال په دې باور لري، چې ټولنیزې ناخوالې د کډوالۍ یو اړین لامل په توګه ونډه اخیستې ده. دا په داسې حال کې چې ۴۰,۴۷٪ یې دا لامل د کډوالۍ لپاره اړین لامل په توګه نه په ګوته کوي. دا پایله ښیي چې د ډېرې ګډونوالو په اند ټولنیزې ناخوالې هغه څه دي، د افغانانو د کډوالۍ بهیر یې ژوندی ساتلی دی.

په ټولنه کې قومي، مذهبي او ژبني تبعیضونه د ناانډولتیا، اقتصادي محدودیتونو، تعلیمي فرصتونو ته د لاسرسي کموالي او حتی امنیتي ستونزو لامل کېدای شي، چې خلک اړ باسي د ژوند د ښه شرایطو په لټه کې نورو هېوادونو ته کډوال شي. سره له دې، د ۴۰,۴۷٪ ګډونوالو نظر دا ښیي چې ټولنیزې ناخوالې ممکن د ټولو لپاره د کډوالۍ بنسټي لامل نه وي.


۳. چارټ: د کاري فرصتونو نشتوالي او د عاید کمښت او پر کډوال کېدو یې اغېزې.




د ګډونوالو له انده د کاري فرصتونو نشتوالی او د عاید کمښت د کډوالۍ د یو مهم لامل په توګه تر ټولو زیات په ګوته شوی دی. یعني چې ۷۰,۷٪ ګډونوالو ویلي، چې د کاري فرصتونو کموالی او د عاید کمښت افغانان "ډېر زیات ۱۰۰٪" اړ باسي، چې کډوال شي. سربېره پر دې، ۲۳,۲۶٪ ګډونوالو دا لامل "ډېر ۷۵٪" اړین ګڼلی، چې په ټوله کې دا ښیي، چې نږدې ۹۴٪ ګډونوال باور لري، چې د کار نشتوالی او د عاید کمښت د کډوالۍ یو بنسټي لامل دی.

بل لوري ته، یوازې ۱,۸٦٪ دا لامل "کم ۵۰٪"، ۳,۷۲٪ "ډېر کم٪۲۵"، او ۰,۴۷٪ "هیڅ" مهم نه ګڼي، چې دا ښيي چې د اقتصادي ستونزو اغېز د خلکو د کډوالۍ په پرېکړه کې پراخ دی. دا پایلې راته په ډاګوي، چې غربت او د کاري فرصتونو نشتوالی نه یوازې د وګړو د ژوند کیفیت اغېزمنوي؛ بلکې د دوی د کډوالۍ پرېکړو ته هم شکل ورکوي، چې ښايي د یوه ښه ژوند په موخه هېواد پرېښودو ته یې اړ باسي.


۴. چارټ: د ټولنیزو فشارونو(کورني او قومي محدودیتونه) او کډوالۍ تر منځ اړیکه.




د پورتني چارټ د موندنو له مخې د ګډونوالو له ډلې یې ۷۲,۵٦٪ باور لري، چې ټولنیز مشکلات، لکه د کورني یا قومي محدودیتونه، ځيني خلک اړ کوي، چې بهر ته کډوال شي. دا پایله ښيي، چې ټولنیز قیودات د کډوالۍ په پرېکړې کونې کې د پام وړ ونډه لري او ډېری وګړي ممکن د لا ازادې ټولنیزې فضاء په لټه کې د کډوالۍ ژوند ته مخه کړي.


همدرانګه ۲۷,۴۴٪ ګډونوال دا لامل د کډوالۍ لپاره اړین نه ګڼي، چې دا ښيي ټولنیز مشکلات د ټولو خلکو لپاره د کډوالۍ انګېزه نه وي. دا توپیر ښايي د کلتوري، جغرافیايي او وګړیزو شرایطو له مخې سره توپیر وکړي؛ خو عمومي پایله دا ده، چې د کورني او قومي محدودیتونو شتون د کډوالۍ یو مهم ټولنیز محرک ګڼل کېږي.

۵. چارټ: روغتیایي خدمتونو ته د نه لاسرسي او کډوالۍ ترمنځ د اړیکې څرنګوالی.




په پورتني چارټ کې د ګډونوالو له ډلې یې ۵٦,۲۸٪ باور لري، چې روغتیایي خدمتونو ته نه‌لاسرسی د افغانانو د کډوالۍ یو مهم لامل نه دی. دا په داسې حال کې چې ۴۳,۷۲٪ یې دا لامل د کډوالۍ د اړینو لاملونو له ډلې حسابوي. دا پایله ښيي، چې که څه هم روغتیایي اسانتیاوو ته نه‌لاسرسی د ځینو وګړو لپاره د کډوالۍ انګېزه ښيي؛ خو ډېری یې د بنسټي لامل په توګه نه ګڼي. دا هر څه په داسې حال کې دي، چې د روغتیایي خدماتو کمښت د نورو اقتصادي او ټولنیزو ستونزو سره په ګډه د کډوالۍ پرېکړې ته پیاوړتیا ورکوي؛ خو یوازې دا فکتور د ډېری خلکو د کډوالۍ اصلي دلیل نه دی.

٦. چارټ: اداري فساد، واسطو او رشوت او د افغانانو پر کډوال کېدو یې اغېزې.





| | هېڅ(٪۰) | ډېر کم(٪۲۵) | کم(٪۵۰) | ډېر(٪۷۵) | ډېر زيات(٪۱۰۰) |
|---|---|---|---|---|---|
| ګډونوالو شمېر | 8 | 13 | 26 | 71 | 97 |
| فيصدي | 3.72 | 6.05 | 12.09 | 33.02 | 45.12 |

ګډونوالو شمېر فيصدي

ګډونوال په دې باور دي، چې اداري فساد، واسطې او رشوت د افغانانو د کډوالۍ پر پرېکړې کولو خورا ډېر اغېز لري؛ څکه چې ٪۴۵,۱۲ ګډونوالو دا عوامل "ډېر زيات" او ٪۳۳,۰۲ "ډېر" مهم ګڼلي دي. دا راته دا په ګوته کوي، چې نږدې ٪۷۸ خلک باور لري، چې اداري فساد او واسطې د دوی د کډوالۍ د پرېکړې يو بنسټيز لامل په توګه ټاکي.

بل لوري ته، يوازې ٪۱۲,۰۹ ګډونوالو دا فکتور "کم"، ٪٦,۰٥ "ډېر کم"، او ٪۳,۷۲ "هېڅ" مهم نه دی ښودلی. دا شمېرې ښيي، چې که څه هم محدود شمېر وګړي د فساد اغېز کم ارزوي؛ خو عمومي نظر دا دی، چې اداري فساد، واسطې او رشوت د افغانانو لپاره د عادلانه فرصتونو مخه نيسي، چې د دې له امله هغوی د دې ستونزې څخه د تېښتې لپاره کډوالۍ ته اړ کېږي .

۷. چارټ: د افغانانو د کډوالۍ د مخنيوي تر ټولو اغېزنا کو حل لارو څرنګوالی.





د پورتنيو معلوماتو له مخې، د افغانانو د کډوالۍ د مخنيوي لپاره تر ټولو اغېزناکه حل لاره د کاري زمينو برابرول او د اداري فساد له منځه وړل په ډاګه شوي دي . له ګډونوالو څخه ٪٦٢,٧٩ باور لري، چې ټول موارد (اقتصادي، تعليمي، روغتيايي، او اداري اصلاحات) بايد يو ځای پلي شي؛ څو کډوالۍ ته اړتيا پيښه نشي. دا ښيي چې د کډوالۍ مخنيوی يوازې د يوې ستونزې په حل کولو ممکن نه دی؛ بلکې پراخ، څو بُعدي اصلاحاتو ته اړتيا لېدل کېږي.

سربېره پر دې ٪۳۲,٥٦ ګډونوالو ويلي، چې د کاري زمينو برابرول د کډوالۍ د کمولو تر ټولو مهمه حل‌لاره ده، چې دا د اقتصادي فکتورونو ارزښت ښيي. په ورته وخت کې، يوازې ٪۲,۳۳ ګډونوالو د اداري فساد ختمول د حل بنسټيزه لاره ګڼلې او همدومره شمېر د ښوونيز او تحصيلي نظام پياوړي کول اړين ګڼي. د پام وړ خبره دا ده، چې هېڅ ګډونوال روغتيايي خدمات د کډوالۍ د مخنيوي لپاره تر ټولو مهم لامل نه دی په ګوته کړی، چې دا د اقتصادي او اداري ستونزو تر څنګ د تعليمي نظام کمزورتيا ته د خلکو له کم پام سره ارتباط لري.

په ټوله کې پورتنۍ موندنې څرګندوي، چې د کډوالۍ د کمولو لپاره د روڼتیا، عادلانه اقتصادي فرصتونو او پراخو ټولنیزو اصلاحاتو ته اړتیا شته، چې باید یو ځای او هممهاله پلي شي؛ څو هېوادوال هېواد پرېښودو ته اړ نشي.


۸. چارټ: په افغانستان کې د شرایطو بیخي ښه کېدو او سهولتونو برابرښت او د کډوالۍ پر ارادې یې اغېزې.




د ټولو ګډونوالو له ډلې ٪۹۱,۱٦ وايي، که په افغانستان کې د ژوند شرایط ښه شي او ټول اړينې آسانتیاوې موجود وي؛ نو دوی به خپل هېواد پرې نږدي. دا پایله څرګندوي، چې د افغانانو د کډوالۍ بنسټیزې انګېزې اقتصادي، ټولنیزې او اداري ستونزې دي؛ نه دا چې دوی ذاتاً دا لېوالتیا لري. دا ښیي، چې که په هېواد کې د ژوند اسانتیاوې، کاري فرصتونه او بنسټیز خدمات برابر شي؛ نو د کډوالۍ کچه به ورسره ډېره زیاته کمه شي.

همدرانګه یوازې ٪۸,۸۴ ګډونوالو داسې نظر لري، چې حتی که د ژوند شرایط هم ښه شي، بیا به هم ځینې هېوادوال لـه افغانستان څخه کډوال شي. دا ممکن د شخصي تجربو، کلتوري، یا نورو شخصي لاملونو له امله وي. لکه: د نـورو هېوادونـو د ژوند طرز ته لومړیتوب ورکول یا داسې نور کوم لاملونه به وي. په ټوله کې ویلی شو، چـې د دوی نظر دا دی، چـې د افغانـانو لپاره ک ډوالي یو داسې فکتور دی، چې ځینې لاملونه یې اړ کوي، چې کډوال شي؛ نه دا چې دا یو فطري میلان دی.


۹. چارټ: د خصوصي سکتور پراخولې او پرمختګ او د کډوالۍ د کچې پر کمېدو یې اغېزې.




ډېری ګډونوال په دې باور دي، چې د خصوصي سکتور پراخوالی او پرمختګ کولای شي د کډوالۍ کچه پـه ډېره انـدازه راټیټه کړي. له ګډونوالو څخه ٪۵۰,۲۳ ویلي، چې دا عامل "ډېر" اغېز لري او ٪۳۵,۳۵ دا "ډېر زیات" اړیـن ګڼـي. دا پـه دې معنی ده، چې نږدې ٪۸٦ خلک د خصوصي سکتور وده د کډوالۍ د مخنیوي لپاره یوه مهمه حل لاره څرګندوي؛ ځکه چې دا د کار فرصتونه رامنځته کوي، اقتصادي بنسټونه پیاوړي کوي او د دې ترڅنګ سره سره د خلکو اقتصادي امنیت ورسره خوندي کېږي.

بل خواته یوازې ٪۹٫۳۰ ګډونوالو دا عامل "کم"، ٪۳٫۲٦ "ډېر کم"، او ٪۱٫۸٦ "هېڅ" اغېزناک نه دی ښودلی. دا ښيي چې که څه هم ځيني خلک د خصوصي سکتور پرمختګ د کډوالۍ پر کچې کم اغېزناک ګڼي؛ خو د ډېری ګډونوالو نظر دا دی، چې د سوداګریزو، تولیدي او خدماتي شرکتونو پرمختګ، د کار بازار پراخول او د پانګوالو هڅول د خلکو لپاره د باثباته اقتصادي شرایطو د برابرولو بنسټیزه وسیله ده. په ټوله کې ویلی شو، چې د خصوصي سکتور پراخوالی د کډوالۍ د کمښت لپاره یو اړین فکتور دی، چې باید د پالېسۍ جوړوونکو له لوري جدي ونیول شي؛ څو ورسره خلک په کار شي او له کډوالۍ راوګرځول شي.


۱۰. چارټ: د کوچنیو سوداګریزو شرکتونو ملاتړ او د کډوالۍ پر مختنیوي یې اغېزې.




پورته موندنې راته په ډاګوي، چې د ګډونوالو لوی اکثریت باور لري، چې د کوچنیو سوداګریزو شرکتونو ملاتړ کولای شي خلک وهڅوي، چې په خپل هېواد کې پاتې شي. له دې ډلې څخه ٪۴۹٫۷۷ ګډونوال نظر لري، چې دا عامل "ډېر" اغېزناک دی او ٪۲۵٫۱۲ دا "ډېر زیات" اړین ګڼي، چې دا په ټوله کې ٪۷۴٫۸۹ کېږي. دا څرګندوي، چې که د کوچنیو سوداګریو ودې ته لازم شرایط برابر شي، خلک به د کډوالۍ پر ځای په خپل هېواد کې پاتې شي.

همدرانګه یوازې ٪۱۱٫۱٦ ګډونوالو دا عامل "کم"، ٪۱۲٫۵٦ "ډېر کم"، او یوازې ٪۱٫۴ "هیڅ" اغېزناک نه ګڼي. که څه هم لږ شمېر خلک د کوچنیو سوداګریو پراختیا د کډوالۍ د مخنیوي لپاره کافي نه بولي؛ خو د ډېری ګډونوالو نظر دا دی، چې د خصوصي سکتور وده د اقتصادي ثبات او دوامدار پرمختګ لپاره اړینه ده.

۱۱. چارټ: د افغان حکومت له لوري ځوانانو ته د کارموندنې زمینه سازي او د کډوالۍ پر مخنیوي یې اغېزې.





پورتنې معلومات د ځوانانو د کډوالۍ کچه او د حکومت له لوري د کارموندنې د زمینه سازۍ اړیکه په واضح ډول څرګندوي . د دې تحلیل پر بنسټ، اکثریت ځوانان باور لري، چې د حکومت د کارموندنې پروګرامونه د کډوالۍ کچه تر ډېره

کمولی شي. د ځوابونو ٦٢،٧٩ په دې نظر دي، چې دا لامل (ډېر زيات) اغېزناک دی او ٣١،٦٣ وايي، چې دا لامل (ډېر) اغېز لرونکی دی. يعنې په دې معنی، چې ځوانان د کارموندنې زمينه سازۍ پراختيا ته مثبت نظر لري او پر دې باور دي، چې دا به د کډوالۍ د مخنيوي لپاره يوه اغېزناکه حل لاره وي او دوي په همدې باور دي، چې د حکومت د کارموندنې پروګرامونه کولای شي، د ځوانانو لپاره اقتصادي فرصتونه رامنځته، او په پايله کې به د کډوالۍ کچه د پام وړ راکمه شي.

همدرانګه يوازې ١،٨٦٪ ګډونوالو دا عامل "کم"، ٢،٧٩٪ "ډېر کم"، او يوازې ٠،٩٣٪ "هيڅ" اغېزناک نه ګڼي او په دې باور دي چې د کارموندنې زمينه سازۍ پراختيا يوازې د کډوالۍ کچې د کمښت لپاره کافي نه ده. دا ښيي چې ځينې ستونزې ممکن د کارموندنې په برخه کې موجودې وي، چې د کډوالۍ د کچې د بشپړ کمښت مخه ونيسي.

١٢. چارټ: د کډوالۍ په مخنيوي کې د نړيوالو ادارو د مرستو اغېز څرنګوالی.





د پورتنيو موندنو پر بنسټ د افغانانو د کډوالۍ مخنيوي کې د نړيوالو ادارو مرستې د ګډونوالو په نظر ډول ډول اغېز لري. د ٤٣،٧٢٪ ګډونوالو باور دا دی، چې د نړيوالو ادارو مرستې "هو، خو بسنه نه کوي"؛ يعنې دوی ګومان کوي چې نړيوالې مرستې د کډوالۍ د مخنيوي لپاره ګټورې دي؛ خو په مخنيوي کې يې ډېرې اغېزناکې نه دي. ٢٥،١٢٪ ګډونوالو نظر دا دی، چې دا مرستې "اغېزناکې نه دي" دا ښيي چې ځينې ګډونوال فکر کوي، چې نړيوالې مرستې د افغانانو د کډوالۍ کچې کمښت کې د پام وړ بدلون نه شي راوستلی.

٨،٨٤٪ ګډونوال په دې باور دي، چې اغېزناکې نه دي، چې دا د دې ښکارندويي کوي، چې دوی د نړيوالو مرستو له لارې د کډوالۍ د مخنيوي امکانات ندي مشاهده کړي. همدرانګه يوازې ٢٢،٣٣٪ ګډونوال وايي، چې نړيوالې مرستې "ډېرې اغېزناکې دي" چې دا ښيي ځينې ګډونوال د دې مرستو د اغېزناک والي په اړه د نظر لرونکي دي او باور لري، چې دا مرستې د کډوالۍ د مخنيوي لپاره يوه اړينه لاره ده.

په ټوله کې ويلی شو، چې ډېری وايي، د کډوالۍ په مخنيوي کې د نړيوالو ادارو مرستې اغېزناکې دي؛ خو دا مرستې به يوازې کافي نه وي، چې د کډوالۍ کچه بيخي راکمه کړي؛ ځکه دلته يې ځينې برعکس نظر لري.


١٣. چارټ: د کډوالۍ په مخنيوي کې د نړيوالو ادارو د تمرکز برخې.




پورتنۍ موندنې په ګوته کوي، چې د افغانانو د کډوالۍ د مخنیوي لپاره نړیوالې ادارې باید په ځانګړې توګه د کاري فرصتونو په رامنځته کولو تمرکز وکړي. د ګډونوالو تر ټولو لویه برخه ۴۷,۹۱٪ باور لري، چې د نړیوالو ادارو له لوري د کاري فرصتونو پراختیا د کډوالۍ د مخنیوي لپاره اړینه ده؛ ځکه خلک غواړي، چې د خپل هېواد دننه اقتصادي فعالیتونو ته لاسرسی ولري. د دې کار سره نه یوازې د اقتصادي وضعیت ښه والی رامنځته کېږي؛ بلکې د خلکو د هوساینې او ژوند کیفیت هم لوړېږي.

همدرانګه د افغانستان اقتصادي پیاوړتیا ته کار کول ۳۳,۹۵٪ بل اړین اړخ په ډاګوي، چې د افغانانو د کډوالۍ د مخنیوي لپاره باید د نړیوالو ادارو له خوا پوره پام ورته وشي. اقتصادي پرمختګ د کډوالۍ د کمښت لپاره کلیدي فکتور دی؛ ځکه چې د اقتصادي فرصتونو زیاتوالی په هېواد کې د خلکو د پاتې کېدو او پرمختګ لپاره اړین دی. په مقابل کې د ۹,۷۷٪ زده‌کړو د زمینو برابرول او ۲,۷۹٪ د بشري مرستو پراخول یادوي او یوازې ۵,۵۸٪ ګډونوال وايي، چې تمرکز ته یې اړتیا نشته، چې دا بیا د مخکنیو انتخابونو په پرتله د کم ارزښت لرونکو برخو په توګه راغلي، چې ښايي د خلکو له نظره د کډوالۍ د مخنیوي لپاره یوازې د اقتصادي پراختیا او کاري فرصتونو پراختیا له لارې اغېزناکه شي.

۱۴. چارټ: په هېواد کې دننه د ښه ژوند او استوګنې برابرښت او د کډوالۍ د مخنیوي ترمنځ اړیکه.





پورتنۍ موندنې را ښيي، چې د ګډونوالو اکثریت ۷۲,۰۹٪ باور لري، چې د کډوالو لپاره د هېواد دننه د ښه ژوند او استوګنې شرایطو برابرول د کډوالۍ د مخنیوي په اړه "ډېر زیات" اغېزناک تمامېدلی شي. دغه ګډونوال پر دې باور دي، چې د ژوند او استوګنې شرایطو سمون (د اقتصادي امکاناتو پراختیا، د ټولنیزو خدمتونو د کیفیت لوړوالی او د خلکو د هوساینې لپاره مناسب شرایط) د کډوالۍ د راکمولو لامل کېږي. همدارنګه ۲۵,۱۲٪ ګډونوال بیا دا نظر لري، چې د دې شرایطو

برابرول "ډېر" اغېزناک دي. دا ښيي چې د ژوند شرایط د کډوالۍ د مخنيوي لپاره د يو مهم فکتور په توګه مطرح دي؛ خو ځيني ګډونوال ښايي نورې نښې هم د کډوالۍ د کمولو لپاره اړينې وګڼي. په ټوله کې، دې پورتنيو دوو برخو ته د پام وړ پاملرنه کول د افغانانو د کډوالۍ د مخنيوي لپاره اړين ګام ګڼل کېږي.

بل لوري ته د لږ شمېر ګډونوالو نظر (۰،۴۷٪) دی، چې د ژوند او استوګنې شرايطو برابرول "کم" اغېز لري، چې دا ښيي، چې يو لږه برخه خلک د کډوالۍ د مخنيوي لپاره د دې شرايطو اغېز نه مني. دغه ګډونوال ممکن په دې باور وي، چې د کډوالۍ لاملونه يوازې د ژوند شرايطو پورې تړلي نه دي او نورو ټولنيزو يا سياسي عواملو ته هم پام اړين دی. له همدې امله، د ۰،۴۷٪ ګډونوالو نظر چې د ژوند شرايط "ډېر کم" اغېز کوي، ښيي چې دوی د دې شرايطو اغېز نږدې صفر يا لږ ګڼي. همدارنګه، هغه ګډونوال چې باور لري د دې شرايطو "هيڅ" اغېز نه شته ، په دې معنی دي، چې د کډوالۍ لاملونه د ژوند شرايطو څخه ډېر پېچلي دي او يوازې د دې شرايطو ښه والی به د کډوالۍ مخنيوی ونه کړي.


۱۵. چارټ: زده کړو ته د پراخ لاسرسي او د ځوانانو د کډوالي د مخنيوي ترمنځ اړيکه.




۴۲،۷۹٪ ګډونوال په دې نظر دي، چې زده کړو ته پراخ لاسرسی د ځوانانو د کډوالۍ په مخنيوي کې "ډېر زيات" اغېز لري. دا ښيي چې ډېری ګډونوال پر دې باور دي، چې د تعليم د فرصتونو پراختيا د کډوالۍ د کچې په راکمولو کې اړينه ونډه لري. د زده کړو پراختيا کولی شي د ځوانانو لپاره نوي فرصتونه او د پرمختګونو لارې هوارې کړي، چې په دې سره به هغوی په هېواد کې دننه پاتې شي. ۴۱،۴۰٪ ګډونوال وايي، چې زده کړو ته پراخ لاسرسی "ډېر" اغېز لري، چې دا هم په دې معنی ده، چې تعليم ته لاس رسی د ځوانانو د کډوالۍ د مخنيوي لپاره يوه بنسټيزه حل‌لاره ګڼل کيږي.

بل لوري ته يوازې ۸،۳۷٪ ګډونوال باور لري، چې زده کړو ته پراخ لاسرسی "کم" اغېز لري او ٦،۰۵٪ يې "ډېر کم" اغېز ګڼي. دا ښيي چې لږ شمېر ګډونوال د زده کړو پراختيا د کډوالۍ په کمولو کې د اغېزناکو اقداماتو په توګه نه ګڼي. دا ممکنه ده، چې دغه ګډونوال په دې باور وي، چې د ځوانانو کډوالي نور لاملونه هم لري، چې يوازې د زده کړو پراختيا يې نشي-حلولی. يوازې ۱،۴٪ ګډونوالو ويلي چې زده کړو ته پراخ لاسرسی هېڅ اغېز نلري، چې دا ښيي دوی فکر کوي، چې د کډوالۍ د کمولو لپاره د تعليم پراختيا اړينه نه ده.


۱٦. چارټ: د افغان حکومت له لوري د روغتيا، تعليم او اقتصادي فرصتونو لپاره د شفافو پاليسيو جوړولو او پلي کولو او د کډوالۍ د مخنيوي ترمنځ د اړيکو څرنګوالی.




د پورتنیو موندنو پر بنسټ د ګډونوالو له ډلې یې ٪۶۱٫۸۶ په دې باور دي، چې که افغان حکومت د روغتیا، تعلیم او اقتصادي فرصتونو لپاره رڼې پالیسۍ جوړې او عملي کړي، د کډوالۍ کچه به "ډېره زیاته" کمه شي. دا پایله څرګندوي چې اکثریت ګډونوال دا باور لري، چې د حکومتي پالیسیو روڼتیا او ښه پلي کول د خلکو لپاره د مناسبو اقتصادي، تعلیمي او روغتیایي شرایطو برابرول به د کډوالۍ د کچې په راټیټولو کې اړینه ونډه ولري. شفافې پالیسۍ نه یوازې د خلکو د ژوند کیفیت ښه کوي؛ بلکې د هغوی د هېواد دننه پاتې کېدو لپاره مناسب شرایط هم رامنځته کوي، چې د کډوالۍ لاملونه کموي.

همدارنګه یوازې ٪۳۴٫۸۸ ګډونوالو ویلي، چې د رڼو پالیسیو جوړول او عملي کول "ډېر" اغېز لري. دا ښیي چې ځینې ګډونوال د دې موضوع د اغېزناک والي په اړه د مخکې په پرتله لږ شک لري؛ خو بیا هم باور لري چې د حکومت لخوا د دې ډول پالیسیو پلي کول د کډوالۍ کچه کمولی شي. یوازې ٪۰٫۹۳ او ٪۱٫۸۶ ګډونوالو دې پوښتنې ته "کمه" یا "ډېره کمه" ځواب ورکړی، چې دا ښیي چې ځینې ګډونوال دا باور لري، چې شفافې پالیسۍ یوازې د کډوالۍ د مخنیوي لپاره یوازینی حل نه دی.

۱۷. چارټ: د ځوانانو لپاره د هېواد دننه د مسلکي او حرفوي پروګرامونو جوړولو او کډوالۍ ترمنځ اړیکه.





د ګډونوالو له ډلې یې ٪۵۲٫۵۶ باور لري، چې د ځوانانو لپاره د مسلکي او حرفوي زده کړو پروګرامونو ډېروالی به د کډوالۍ کچه "ډېره" راکمه کړي. دا ښیي چې اکثریت ګډونوال پر همدې باور دي، چې د مسلکي او حرفوي زده کړو پراختیا کولی شي، ځوانانو ته اقتصادي فرصتونه برابر کړي او د هغوی لپاره د هېواد دننه پاتې کېدل فرصت وګڼي. څکه د دې

پروګرامونو له لارې ځوانان کولی شي د کار بازار کې د اړتیا وړ مهارتونو باندې ځانونه وپوهوي، چې له دې سره کډوالۍ ته د هڅیدو امکان کمېږي.

همدارنګه ٪۲٦,٥١ ګډونوال په دې نظر دي، چې د مسلکي او حرفوي زده‌کړو ډېروالی "ډېره زیاته" اغېزه لري، چې دا ښيي ځینې ګډونوال باور لري، چې دا پروګرامونه به د کډوالۍ د کمولو لپاره یوه اړینه حل لاره وي. په مقابل کې، ٪۱۰,۷۰ ګډونوالو ویلي، چې د دې پروګرامونو ډېروالی "ډېره کمه" اغېزه لري، چې ښايي دوی د ځوانانو د مسلکي زده‌کړو پراختیا سره د کډوالۍ په کمولو کې کمه اړیکه ویني. یوازې ٪۹,۳۰ ګډونوالو ویلي، چې دا پروګرامونه "کمه" اغېزه لري، چې د دې پایلې پر اساس لږه برخه خلک په دې باور دي، چې د مسلکي زده‌کړو ډېروالی به د کډوالۍ کچه ډېره اندازه راکمه نکړي.


۱۸. چارټ: د کلیوالو سیمو د پرمختګ او په کې د پانګونې او کډوالۍ ترمنځ د اړیکې څرنګولی.




د پورتنۍ ډېټا له مخې د ډېرو ګډونوالو ٪۴۸,۸۴ باور دا دی، چې د کلیوالي سیمو پرمختګ او پانګونه "ډېر" کولی شي د کډوالۍ کچه راکمه کړي. دا په ډاګه کوي، چې ډېری ګډونوال په دې باور دي، چې که د کلیوالي سیمو لپاره پرمختیایي پروګرامونه او پانګونه زیات شي؛ نو ځوانان به په خپل هېواد کې د ژوند د ښه کولو لپاره پاتې شي. د کلیوالي سیمو پرمختګ نه یوازې اقتصادي فعالیتونه زیاتوي؛ بلکې خلکو ته د ژوند شرایط ښه کوي، چې د کډوالۍ کچه ورسره کمېږي.

همدارنګه، ٪۲٦,۰٥ ګډونوال په دې اند دي، چې د کلیوالي سیمو پرمختګ او پانګونه "ډېره زیاته" اغېزه لري، چې دا ښيي ځینې ګډونوال باور لري، چې دا به د کډوالۍ د مخنیوي لپاره یو ځواکمن عامل وي. په مقابل کې، ٪۱۴,۴۲ ګډونوالو ویلي چې د کلیوالي سیمو پرمختګ او پانګونه "ډېره کمه" اغېزه لري، چې ښايي دوی د کلیوالي پرمختګ سره د کډوالۍ په کمولو کې کمه اړیکه ویني. یوازې ٪۹,۳۰ ګډونوالو ویلي، چې دا پروګرامونه "کمه" اغېزه لري، چې د دې پایلې پر بنسټ لږه برخه خلک په دې باور دي، چې د کلیوالي سیمو پرمختګ به د کډوالۍ کچه ډېره راکمه کړي.


۱۹. چارټ: د کوچینو کاروبارونو د رامنځته کېدو ترڅنګ یې ملاتړ او د کډوالۍ پر مخنیوي یې اغېزې.



د پورتنیو معلوماتو پر بنسټ ډېری ګډونوال ٪۴۹٫۳۰ په دې اند دي، چې د کوچنیو کاروبارونو رامنځته کېدل او ملاتړ یې "ډېر" کولی شي د کډوالۍ په مخنیوي کې اړینه ونډه ولري. دا بیا راته دا په ډاګه کوي ، چې ډېری ګډونوال پر دې باور دي، چې د کوچنیو کاروبارونو پراختیا د ځوانانو لپاره اقتصادي فرصتونه رامنځته کوي، چې د اقتصادي ثبات او پر مختګ له لارې په هیواد کې د هغوی د پاتې کیدو زمینه برابروي د کوچنیو کاروبارونو ملاتړ نه یوازې د کاروبار پیلولو اسانتیاوې وړاندې کوي؛ بلکې د ځوانانو لپاره نوي کاري فرصتونه هم رامنځته کوي.

همدارنګه، ٪۲۸٫۳۷ ګډونوالو اند دا دی، چې د کوچنیو کاروبارونو رامنځته کېدل او ملاتړ یې "ډېر" اغېز لري، چې دا ښيي ځینې ګډونوال په دې باور دي، چې دا پروګرامونه د کډوالۍ په مخنیوي کې ډېر قوي تاثیر لري. په مقابل کې، ٪۱۱٫۱۶ ګډونوالو ویلي چې دا ملاتړ "ډېره کمه" اغېزه لري، ښايي دوی په دې باور وي، چې د کوچنیو کاروبارونو ملاتړ یوازې یو جزوي حل دی او بشپړ حل ته اړتیا ده. یوازې ٪۹٫۷۷ ګډونوالو ویلي چې د کوچنیو کاروبارونو ملاتړ "کم" اغېز لري، چې دا ښيي چې لږه برخه خلک د دې اقداماتو په اغېز کې شک لري.

۲۰. چارټ: د دولت له لوري خلکو ته د پورونو ورکړه او د کډوالۍ د مخنیوي ترمنځ اړیکه.




د پورتنیو معلوماتو پر بنسټ د ډېر ګډونوال ٪۳۳٫۹۵ باور لري، چې د دولت له لوري خلکو ته د پورونو په ورکړې سره د کډوالۍ کچه "ډېره" کمېدلی شي. دا پایله ښيي چې د دولت د پورونو ورکول کولی شي خلکو ته د اقتصادي فعالیتونو پراختیا لپاره فرصتونه برابر کړي، چې د هغوی لپاره په خپل هېواد کې د پاتې کېدو هڅونې زیاتې شي. د پورونو له لارې خلک کولی شي خپل کاروبارونه پیل کړي یا پرمختګ ورکړي، چې د کډوالۍ کچه راکموي.

همدارنګه، ٪۱۵٫۸۱ ګډونوالو ویلي چې د پورونو ورکړه "ډېره زیاته" اغېز لري، چې دې سره د دې نظر ملاتړ کېږي، چې پورونو ورکول د کډوالۍ د مخنیوي لپاره یو ډېر قوي عامل دی. په مقابل کې، ٪۲۶٫۹۸ ګډونوالو ویلي چې د پورونو ورکول "ډېره کمه" اغېزه لري، چې دا ښايي دوی باور لري، چې یوازې پورونه نشي کولی د کډوالۍ کچه د پام وړ راکمه کړي؛ بلکې نورو پرمختیایي اقداماتو ته هم اړتیا ده. ٪۱۶٫۷۴ ګډونوالو وویل چې دا پروګرام "کم" اغېز لري، چې ښايي دې خلکو د پورونو ورکولو اغېز نه وي منلی. یوازې ٪۶٫۵۱ ګډونوالو ویلي چې پورونه هېڅ اغېز نه لري، چې دا ښيي یوه کمه برخه خلک په دې باور دي چې د پورونو ورکړه د کډوالۍ د کمولو لپاره بې اغېزې ده.

**پایله**

په پایله کې ویلی شو، چې د ګډونوالو لویه برخه (٪۹۹٫۵) نارینه دي او د عمر له پلوه ٪۸۳٫۲۶ د ۱۸-۳۰ کلونو ترمنځ دي، چې دا ښيي ډېری ګډونوال ځوانان دي. د زده‌کړو له پلوه ٪۶۳٫۷۲ لېسانس او لږ شمېر یې ماسترۍ یا لومړنۍ زده کړې لري. دا راته په ډاګه کوي ، چې ډېری ګډونوال لوستي او د ټولنیز فعال قشر برخه دي. د استوګنې له پلوه، ٪۶۵٫۱۲

ګډونوال په اطرافو او ۳۴،۸۸٪ په ښارونو کې ژوند کوي، چې ښايي د اقتصادي او جغرافيايي عواملو سره تړاو ولري. ۷،۹۱٪ ګډونوال اوس هم کډوال دي ۲۰،۹۳٪ بېرته راستانه شوي او ۷۱،۱٦٪ هېڅکله نه دي کډوال شوي. له دې ډلې ۳۳،۰۲٪ د کډوالۍ اراده لري، ۳۱،٦۳٪ يې نه لري، او ۳۵،۳۵٪ لا هم نامعلوم نظر لري

اقتصادي ستونزې د کډوالۍ تر ټولو مهم لامل بلل شوي، چې ٦۲،۷۹٪ ګډونوالو يې يادونه کړې. د کار نشتوالی يا کمښت ۲۲،۷۹٪ ، شخړې ۸،۳۷٪ ، د زده کړو محدوديتونه ۳،۷۲٪ ، او د ټولنيزو خدمتونو کمښت (۲،۳۳٪) نور مهم عوامل ګڼل شوي دي. دا ښيي، چې اقتصادي بې‌ثباتي د افغانانو د کډوالۍ اساسي لامل دی. ټولنيزې ناخوالې د ۵۹،۵۳٪ ګډونوالو له نظره د کډوالۍ يو مهم لامل دی، خو ۴۰،۴۷٪ دا فکتور دومره اړين نه بولي. همدارنګه، ۷۰،۷٪ باور لري، چې د کار نشتوالی او د عايد کمښت د کډوالۍ تر ټولو مهم لامل دی. سربېره پر دې، ۷۲،۵٦٪ ګډونوال ټولنيز مشکلات د کډوالۍ يو مهم محرک بولي، په داسې حال کې چې ۲۷،۴۴٪ يې دا فکتور چندان اړين نه ګڼي.

اداري فساد، واسطې او رشوت د ۷۸،۱۴٪ ګډونوالو له نظره د کډوالۍ مهم لاملونه په ګوته شوي دي. له بلې خوا، د روغتيايي خدماتو نشتوالي ته يوازې ۴۳،۷۲٪ د کډوالۍ د انګېزې په توګه اشاره کړې، چې دا ښيي، اقتصادي او ټولنيز عوامل د روغتيايي فکتورونو په پرتله پياوړي دي.

د حل‌لارو په اړه، ٦۲،۷۹٪ ګډونوال باور لري، چې د کډوالۍ مخنيوی يوازې د اقتصادي، تعليمي، روغتيايي، او اداري اصلاحاتو په ګډ تطبيق کې ممکن دی. همدارنګه، ۳۲،۵٦٪ يوازې د کاري زمينو برابرول تر ټولو اړينه حل‌لاره بولي، ۲،۳۳٪ د اداري فساد ختمول مهم ګڼي او ۲،۳۳٪ د ښوونيز او تحصيلي نظام پياوړی کول، د حل يوه لاره بولي.

په ټوليزه توګه، ۹۱،۱٦٪ ګډونوالو ويلي، که د ژوند شرايط ښه شي، دوی به خپل هېواد پرېنږدي. دا ښيي، چې د کډوالۍ اصلي محرک اقتصادي، ټولنيز، او اداري ستونزې دي، نه دا چې خلک ذاتاً د کډوالۍ ميلان لري. همدارنګه، ۸٦٪ ګډونوال د خصوصي سکتور پراختيا د کډوالۍ د مخنيوي لپاره مهم بولي، او ۷۴،۸۹٪ د کوچنيو سوداګريزو شرکتونو پراختيا د کډوالۍ د کمښت يوه بنسټيزه وسيله ګڼي. همدرانګه ۹۴،۴۲٪ ګډونوال د حکومت له لوري ځوانانو ته د کارموندنې زمينه سازي يوه غوره حل لاره ګڼي. زده کړو ته پراخ لاسرسی، کليوالي سيمو پرمختګ او پکې پانګونه، د کوچنيو کاروبارونو رامنځته کول او پرمختګ، د نړيوالو ادارو له لوري د کارموندنې زمينه سازي، او د دوی مرستې هغه څه دي، چې د ډېری ګډونوالو له لوري د حل لارو په توګه په ګوته شوي دي. له دې هر څه سره سره ٦۱،۸٦٪ ګډونوال بيا د افغان حکومت له لوري د روغتيا، تعليم او اقتصادي فرصتونو لپاره د رڼو پاليسيو جوړول او پلي کول يې د حل لارو په توګه په ګوته کړي دي .

**مناقشه**

د دې څېړنې پايلې ښيي، چې بهرنيو هېوادونو ته د افغانانو د کډوالۍ بنسټيز لاملونه په عمده توګه اقتصادي بې ثباتي، د کار فرصتونو نشتوالی، ټولنيز مشکلات، اداري فساد او ټولنيزې ناخوالې دي. دا موندنې له هغو پخوانيو څېړنو سره سمون لري، چې له مخې يې اقتصادي بې‌عدالتي د کډوالۍ د بهير اصلي محرک ګڼل شوی دی *(Stara Jalal, 2018; Mohammadi et al., 2019).* له دې سره، د شخړو، زده‌کړو محدوديت، او روغتيايي خدمتونو نشتوالي ته هم ځينو ګډونوالو اشاره کړې؛ خو په نسبي ډول يې اغېز کم ښودل شوی، چې دا د *Abbasi-Shavazi et al. (2017)* له څېړنې سره توپير لري؛ ځکه دلته د ناامنۍ اغېز پر کډوالۍ ډېر ارزول شوی و.

د ګډونوالو ډېری برخه ځوانان دي، چې د زده‌کړو کچه یې نسبتاً لوړه ده؛ دا ښیي چې زده‌کړې لرونکي ځوانان د فرصتونو له نشتوالي سره مخ دي .دا پایله له *Janzada (2020)* څېړنې سره مطابقت لري، چې پکې لوستي افغان ځوانان د کډوالۍ د لوړ ګواښ سره مخ پېژندل شوي دي. همداراز، له ښارونو پرته په اطرافو کې د استوګنې لوړ تناسب ښیي، چې جغرافیایي محرومیت د کډوالۍ یو بل مهم اړخ دی، دا خبره د *Sadeqi et al. (2019)* د څېړنې موندنې هم تائیدوي، چې په کلیوالو سیمو کې د خدماتو کمښت د کډوالۍ محرک ګڼل شوی و.

په زړه پورې خبره دا ده، چې د ټولو ګډونوالو نږدې درېیمه برخه (۳۳,۰۲٪) د کډوالۍ اراده لري، خو له دې څخه هم مهم دا دی، چې نږدې ۹۱٪ ګډونوالو ویلي که شرایط سم شي، نو دوی به هېواد پرېنږدي. دا پایله ښیي چې د کډوالۍ پروسه د مجبورۍ تګلاره ده، نه طبیعي تمایل، چې دا د *IOM (2021)* نړیوال راپور سره همغږي لري.

د حل‌لارو په برخه کې، ګډونوال د یو ټولګډ حل پر اړتیا ټینګار کوي. له دغو حل‌لارو څخه د خصوصي سکتور پراخوالی، د کاري زمینو برابرول، د ښوونیزو او روغتیایي خدمتونو پیاوړتیا، او د اداري اصلاحاتو تطبیق ډېر ارزول شوي، چې دا د *UNHCR (2020)* د وړاندیزونو او پالیسۍ چوکاټ سره سمون لري. له دې سره، دا هم څرګنده شوې، چې یوازې یوه حل‌لاره نه شي کولای د کډوالۍ بهیر محدود کړي، بلکې یو همغږی پراخ اصلاحاتي بهیر اړین دی.

په پای کې ویلای شو، چې دا څېړنه د هغو عواملو ژور انځور وړاندې کوي، چې افغانان د بهرنیو هېوادونو پر لور د کډوالۍ پر لاره بیایي. پایلې ښیي، چې د اقتصادي، ټولنیزو، او اداري ستونزو تر حل مخکې، د کډوالۍ د مخنیوي هڅې ناتمامې پاتې کېږي.

**وړاندیزونه**

- اسلامي امارت دې افغانانو ته د کډوالۍ د مخنیوي په موخه کاري فرصتونه رامنځته کړي.
- نړیوالې اداري دې خپلې مرستې په داسې توګه وکاروي، چې د خلکو د هوساینې سبب شي.
- افغان حکومت دې د کډوالۍ د مخنیوي لپاره ممکنه پالیسۍ جوړې او پلې کړي.
- رسنۍ دې د کډوالۍ د مخنیوي په موخه داسې خپرونې تولید او خپرې کړي، چې خلک د کډوالۍ د سخت ژوند څخه خبر کړي .

**ماخذونه**


1. جانزاده. (2020). عوامل اثرگذار بر مهاجرت افغان‌ها به ایران. فصلنامه سیاست, 50(4), 1067-1092.
2. ستاره جلال. (2018). علل و پیامدهای مهاجرت افغان ها به ایران (مورد مطالعه: شهر مرزی زابل).
3. صادقی, محمدی, عباسی شوازی, & محمدجلال. (2019). مسئلۀ اجتماعی مهاجرت از افغانستان: تمایلات و عوامل پشتیبان. بررسی مسائل اجتماعی ایران, 10(1), 97-118.
4. عباسی شوازی, محمدجلال, صادقی, & محمدی. (2017). ماندن یا مهاجرت دوباره مهاجران بازگشته افغانستانی از ایران به کشورشان و عوامل تعیین‌کنندۀ آن. نامه انجمن جمعیت شناسی ایران, 11(22), 10-41.
5. محمدی, یدالله, خداوردی, کشیشیان, گارینه, & مطلبی. (2019). علل و ویژگی‌های مهاجرت اتباع افغانستان به ایران و تأثیر آن بر امنیت ملی جمهوری اسلامی ایران بعد از انقلاب اسلامی. *رهیافت انقلاب اسلامی, 49*(13), 65-86.

1. Abbasi-Shavazi, M. J., Sadeghi, R., & Mahmoudian, H. (2017). Socioeconomic root causes of migration in Afghanistan. Iranian Journal of Population Studies, 1(2), 45–70. https://doi.org/10.52547/IJPS.1.2.45
2. Alamyar, R., & Ismet, B. O. Z. (2022). Reasons for Afghan immigrants to come to Turkey and the problems they experience. MAS Journal of Applied Sciences, 7(4), 1042–1056. https://doi.org/10.5281/zenodo.7384642
3. Dashti, Z. (2022). Afghan external migration movements in the historical process. Asya Studies, 6(20), 301–314. https://doi.org/10.31455/asya.1055791
4. International Organization for Migration. (2021). World migration report 2022. https://doi.org/10.18356/9789210012373
5. International Organization for Migration. (2023). World migration report 2023. https://www.iom.int
6. Janzada, M. (2020). Brain drain and youth migration in Afghanistan: Causes and consequences. Journal of Central Asian Studies, 27(1), 66–80. https://doi.org/10.53063/jcas.v27i1.66
7. Jawad, H., Koehler, J., & Gosztonyi, K. (2016). Reasons for the current Afghan migration to the EU. Afghan Human Rights Research and Advocacy Organization (AHRRAO). https://doi.org/10.13140/RG.2.2.26934.50241
8. Loschmann, C., & Siegel, M. (2014). The influence of vulnerability on migration intentions in Afghanistan. Migration and Development, 3(1), 142–162. https://doi.org/10.1080/21632324.2014.885259
9. Mixed Migration Centre. (2023, March 29). Changing dynamics of Afghan migration. https://mixedmigration.org/resource/changing-dynamics-afghan-migration
10. Mohammadi, A., Khodavardi, M., Keshishian, F., & Matlabi, M. (2019). Social and economic factors influencing Afghan migration: A qualitative study in Herat Province. Migration Letters, 16(2), 191–204. https://doi.org/10.33182/ml.v16i2.725
11. Monsutti, A. (2005). War and migration: Social networks and economic strategies of the Hazaras of Afghanistan. Routledge.
12. Pouya, J. (2022). The causes of Afghan immigration to Türkiye. Ortadoğu ve Göç, 12(2), 286–310. https://doi.org/10.31834/ortadoguvegoc.1161495

13. Sadeqi, R., Mohammadi, A., & Abbasi-Shavazi, M. J. (2019). Rural-urban disparities and migration intention among Afghan youth. Journal of Migration Research, 11(3), 133–154. https://doi.org/10.53897/jmr.113.133
14. Stara Jalal, F. (2018). Conflict, insecurity, and migration in Afghanistan: Social drivers of displacement. Asian Affairs, 49(4), 587–602. https://doi.org/10.1080/03068374.2018.1523376
15. United Nations High Commissioner for Refugees (UNHCR). (2020). Afghanistan: Solutions strategy for Afghan refugees (SSAR). https://www.unhcr.org/solutions-strategy-afghan-refugees
16. Van Houte, M., Siegel, M., & Davids, T. (2015). Return to Afghanistan: Migration as reinforcement of socio-economic stratification. Population, Space and Place, 21(8), 692–703. https://doi.org/10.1002/psp.1876
17. Yawar, M. E., & Muhsini, A. B. (2024). The social issue of migration from Afghanistan: Tendencies and supporting factors. https://doi.org/10.31219/osf.io/dyr89.